# رغونه

اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د ذوالقعدې ۰۵ مه، ۱٤٤٦ هـ.ق کال
غويي/ثور ۱۳ مه، ۱٤۰٤ هـ.ش کال

لومړی کال، پرله پسې ۱۲مه ګڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست


په دې ګڼه کې لولئ:


مزار شریف — د مزارشریف ښار تلپاتې ودې او پرمختګ په موخه ګړندی هڅې

کندهار — د کندهار ښار په شپږمه ناحیه، دویم ګذر کې د یو مهم سرک رغولو چارې پیل شوې

غزني — په دویمه ناحیه کې د دریم پلان اړوند د پارک د جوړېدو چارې ۹۵ سلنه پرمختګ لري

مزار شریف — کار ساخت یک سرک در ناحیه اول شهر مزارشریف به سرعت جریان دارد

روزګان — روزګان مرکز ترینکوټ ښار کې د لوحو او تابلوګانو څخه نظارت ترسره شو

لغمان — په مهترلام ښار کې د ښوونځیو لپاره د پاک چاپېریال ساتنې د عامه پوهاوي د کمیټو جوړولو لړۍ پیل شوه

هلمند — ګرشک ښاروالی له لوري د یو شمېر هوټلونو څخه نظارت ترسره شوو

میدان وردګ — د زیر زمیني مارکېټ رغولو چارې په چټکی سره روانې دي

هرات — موزاییک‌کاری و کانکریت ریزی پیاده رو در ناحیه نهم شهر هرات به سرعت جریان دارد

مزار شریف — کار ساخت (کانکریت ریزی) چهار سرک به طول ۱،۵ کیلومتر در شهر مزارشریف به سرعت جریان دارد

پکتیکا — د ښرني ښار داخل کې د یو کیلو متر په اندازه د سرک جوړولو لومړنی چارې په منظم شکل روانې دي


پکتیا — ګردیز ښار د ملک خیلو سیمې دریو کلیو سړکونو د جوړولو کار جریان لري


## د رسول آباد د سرک د کانکریټ چارې ۸۵ سلنه کاري پرمختګ لري



غزني

## خوست ښاروالی: د ۲۱،٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د سرک پروژه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه




خوست

## کار نوسازی ګلدان و پیاده رو چهارراهی شرقی روضه مبارک تکمیل و به بهر برداری سپرده شد



مزار شریف

## جلال باد ښاروال قاري بسم الله بلال د روان ۱٤۰٤ مالي کال لپاره د انکشافي او پراختیایي پروژو د ځایونو انتخاب په موخه د ښلابلو ساحو نه لیدنه وکړه



جلال اباد ۱

د جلال اباد ښاروال قاري بلال، د پلان امر انجنیر احمد جاوید جهانمل، د ساختمان امر انجنیر شوکت، د پنځمې ناحیې امر قاري نصیب الله ثاقب، د شپږمې ناحیې امر عبدالستار حیدري او ورسره مل پلاوي د څلورمې، پنځمې، شپږمې او اتمې ناحیې په ښلابلو سیمو کې د روان ۱٤۰٤ مالي کال لپاره د انکشافي او پراختیایي پروژو د ځایونو انتخاب په موخه نن د جمعي ورځ لیدني ترسره کړي.

د جلال اباد ښاروال ښاغلي قاري بلال وویل؛ هڅه کوو چې د روان ۱٤۰٤ مالي کال لپاره د ښاریانو لومړیتوبونو ته په کتو انکشافي، پراختیایي او د ښاري ښکلا په موخه پروژې انتخاب او چارې یې ترسره کړو، دا چې ښاروالی یوه غیر بودیجوي اداره ده له ښاریانو مو غوښتنه ده چې د ښاروالۍ ټول اصولي او قانوني محصول په وخت سره تحویل کړي تر څو د انکشافي او پراختیایي پروژو د پلي کولو په برخه کې له ستونزو سره مخ نه شو.

د جلال اباد ښاروالی د روان ۱٤۰٤ مالي کال لپاره نږدې د ٤۰ لویو او وړو پروژو د پلي کولو پلان لري چې د ساحو له دقیقې کتنې او تداراکاتي چارو د ترسره کولو وروسته به یې عملي چارې پیل شي.

د جلال اباد ښاروالۍ د داخلي عوایدو په مرسته په تېر ۱٤۰۳ مالي کال کې په نهه ګونو ناحیو کې ٤٦ ښلابلې انکشافي او پراختیایي پروژې ترسره کړې.


د جلال اباد ښاروالی رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو موسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

**جلسه اداری ریاست شاروالی انجیل ولایت هرات امروز (شنبه ششم ثور) تحت ریاست مولوی نعمت الله رحیمی برگزار گردید و پیرامون آغاز فعالیت های سال مالی ۱٤۰٤ هـ ش، بحث و تبادل نظر صورت گرفت. در این جلسه در مورد طرح بودجه سال مالی ۱٤۰٤ ،اجرای هدایات مقام ولایت، طی مراحل پروژه های انکشافی سال مالی ۱٤۰٤ وحل چالش های موجود بحث و تبادل نظر صورت گرفت.**




هرات ۲

## شاروالی مزارشریف از جریان ساخت بند منزل های شهر نظارت نمود



مزار شریف ۳

محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از جریان ساخت بلند منزل های ناحیه سوم و هشتم شهر مزارشریف نظارت نمود و در عین حال به مالکان خانه‌ها هدایت داد تا نقشه‌های منازل خویش را طبق طرزالعمل شهری تهیه و ویزه نمایند.

آقای مایار افزود که ریاست شاروالی مزارشریف همیشه در راستای تحکیم نظم شهری تلاش می کند و کسانیکه که از اصول و مقررات ریاست شاروالی سرپیچی نمایند با برخورد قانونی روبرو خواهند شد.

## جلال اباد ښاروال قاري بسم الله بلال پنځمه ناحیه کې د دوو پارکونو د جوړولو له چارو لیدنه وکړه



جلال اباد ۴

د جلال اباد ښاروال قاري بلال، د پلان امر انجنیر جاوید جهانمل، د ساختمان امر انجنیر شوکت شاکر، د ناحیې امر قاري نصیب الله ثاقب او ورسره مل پلاوي پنځمه ناحیه کې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د UNOPS همکارۍ مؤسسې له لوري د دوو پروژو له کارونو له نږدې لیدنه وکړه او د شرکت مسؤولینو ته یې د چارو د ښه والي په موخه لازمي سپارښتنې وکړې.


د جلال اباد ښاروال قاري بلال وویل؛ د جلال اباد ښاروالۍ د داخلي عوایدو او همکارو مؤسسو په مرسته د فرعي او عمومي سړکونو د رغوولو ترڅنګ د دې دوو پروژو په څېر د ښار د ښکلا او سرسبزۍ په موخه تفریحي پارکونه هم په پلان کې دي.

د ناحیې امر قاري نصیب الله ثاقب له لوري د پروژو په اړه عمومي معلومات ورکړل شو.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانستان په ښارونو او کلیو کې د لنډ مهاله کاري فرصتونو او لومړنیو خدمتونو وړاندې کول دي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو موسسو په مرسته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

## د رسول آباد د سرک د کانکریټ چاري ۸۵ سلنه کاري پرمختګ لري



غزنی ۵

غزني ښار د پنځمې ناحیې اړوند د قلعه نو په خواجه روښنايي سیمه کې د ښاروالۍ ریاست په همکارۍ او ملګرو ملتونو د خدمتونو په مالي ملاتړ د سرک د کانکریټ چارې رواني دي او تر راتلوونکو ۱۰ ورځو کې به په معیاري او استندرد ډول بشپړې شي.

د پروژې مسؤول انجنیر عبدالله حکیمي وایي: چې د کار بهیر له تخنیکي معیارونو سره سم پر مخ روان دي او هڅه کیږي چې دا پروژه په معیاري بڼه تر ټاکلي وخت بشپړه شي.

د نوموړې په وینا یاده پروژه ۵۹۵ اوږدوالي،٦ متره پلنوالي، ۳۹۵ متره لښتې لري.

ښاغلي حکیمي وویل موږ د کیفیت په تامین ډیر تمرکز کوو تر څو دا سرک اوږدمهاله او د خلکو لپاره ګټور تمام شي.

دغه سرک چارې د ۸ میلیونو افغانیو په ارزښت د ښاروالۍ ریاست او ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر په مالي ملاتړ پیل شوي وي. چې اوس مهال شاوخوا ۱۰۰ مسلکي او غیر مسلکي کسانو ته د کار زمینه برابره شوي ده.

د یادولو وړ ده چې، اوس مهال د غزني ښاروالۍ د سړکونو جوړولو پروژې د ښار په مختیلفو سیمو کې د پلي کېدو په حال کې دي.

## د بازار د تنظیم کمېټې له هوټلونو څخه څارنه ترسره کړه!




میدان وردګ ۶

د میدان ښار ښاروالۍ له لوري د بازار د تنظیم په موخه ټاکل شوې کمېټې غړو په میدان ښار بازار کې له شته هوټلونو څخه څارنه ترسره کړه.

په ورته وخت د هوټلونو کارکوونکو ته د کمېټې د غړو له لوري د ځانګړي لباس اغوستلو او پاکۍ د مراعات کولو په برخه کې لازمي سپارښتنې وشوې.

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

رغونه اونیزه

# د ولایاتـو او ولسـوالیو ښـاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## جوی زرگری بالا مربوط ناحیه اول شهر تالقان بازگشائی گردید




شـاروالی تالقان ولایـت تخار جوی آب زرگـری را که از مدتی به اینسـو در اثـر گل و لای مسـدود گردیده بود، پاکسازی و بازگشایی نموده است.

مدیر عمومی ناحیه اول شـاروالی تالقان از همکاری فعال باشـندگان محل در قسمت بازگشائی این جوی قدر دانی نمود و نقش شـهروندان را در بهبود وضعیت شـهری مهم خواند و بر ادامه چنین همکاری‌ها تأکید ورزید.

## د یو کانال جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې دي





مزارشریف ښار کې د سطحې اوبو لا ښه مدیریت، د موسمي بارانونو او سیلابونو کنټرول او د ځمکې لاندې اوبو د سرچینو پیاوړتیا په موخه د مزارشریف ښـاروالۍ له خـوا او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو د دفتر په مالي مرسته د مزارشریف ښـار ۵مې ناحیې ۱۱م ګذر کې د ابو طالب ښارګوټي کانال جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې دي.

نوموړي کانال ۳۰۰ متره اوږدوالی، ۲ متره سور او ۱،۴۳ متره ژوروالی لري چې پاتې رغنیزې به یې ۱۵ ورځو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د کانال جوړیدو په بهیر کې یې هره ورځ ۱۳۰ ماهرو او غیر ماهرو کاریګرو ته د کار زمینه برابره شوې.

د ابوطالب ښارګوټي کانال جوړیدو سره به موسمي بارانونه او سـیلابونه کنټرول او شاوخوا اوسیدونکي به له مالي او ځاني زیانونو وژغورل شي.

## د بغلان پلخمرۍ ښار د زرغونتیا او سمسورولي په موخه نیالګیو او زینتي بوټو اوبه کولو لړۍ روانه ده




د پلخمري ښاروالۍ د هوا ګرمېدو له وجې د نیالګیو او بوټي د ښار په شپږونو ناحیو کې په منظم ډول هره ورځ اوبه خروبوي.

قاري نقیب الله (محمدی) د بغلان پلخمري ښاروال د سرسبزۍ کارکوونکو ته لارښوونه وکړه چې د ښار زرغونتیا لپاره خپل پوره توان په کار واچوي همداراز یې زیاته کړه چې د نیالګیو او زینتي بوټو په ساتنه او پالنه کې باید کوښش وشي.

## د مزارشریـف ښـار تلپاتې ودې او پرمختـګ په موخه ګرنډۍ هڅې




د مزارشریـف روضـې مبارکـې ختیځ دروازې څخـه بیا تر فردوسي څلور لارې پورې د سـړک منځ او دواړو غاړو ګلدانیو پراخولو او بیارغولو سروې چارې د مزارشریف ښاروال په شتون کې پیل شوې.

د مزارشریف ښـار چاپیریال پاکوالي او سمسورتیا پراختیا په موخـه د مزارشریف ښـاروال حافظ عبدالرحمـن همت په ځانګړې لارښوونې د مزارشریف روضې مبارکې ختیځ دروازې څخه بیا تر فردوسي څلور لارې پورې د سـړک منځ او دواړو غاړو ګلدانیو پراخولو او بیارغولو سروې چارې پیل.

د نوموړي سـړک ګلدانیو پراخولو او بیارغولو سروې چارو پر مهـال د مزارشریف ښـاروال حافـظ عبدالرحمن همت د ښاروالۍ انجنیري ټیم ته د ګلدانیو په اساسي او عصري ډول پراخولو او بیارغولو په موخه یې اړینې سپارښتنې وکړې.

همدارنګه ښاغلي همت ښاروالۍ انجنیري ټیم ته ټینګار وکړ، د ګلدانیو پراخولو او بیارغولـو سروې، طرح او ډیزاین چارې دې ژر تر ژره بشپړې او عملي چارې دې پیل شي، تر څو د یو زرغون او پاک ښار درلودونکي و اوسو.

## د خوسـت رغـه کلي مرکزي لېسـه کې د بیـا رغونې، سرسبزۍ چارې روانې دي





د ورغه کلي لیسـې د ښاروالۍ کمېټې په هڅو د لېسې انګړ پاک شـوی، شنه ساحې سرسبزه شـوې، تخریب او زیانمن شوي ځایونه ترمیم شوي، او د زده‌کوونکو ترمنځ د چاپېریال ساتنې په اړه د پوهاوي پروګرامونه هم ترسره شوي دي.

یادې کمیټې د خوست ښاروالۍ ښاري حکومتوالۍ له لوري په مرکزي لېسـو او یو شمیر دیني مدرسو کې رامنځته شوې دي او دوی ته یې د اړتیا وړ توکي هم ویشـلي او په پاتې یې کار روان دی.

د یادونې وړ ده، چې اوس مهال، د دغو هڅو له امله د لېسـې چاپېریال د پام وړ بدلون موندلی او د زده‌کوونکو لپاره یې یو پاک، منظم او الهام بښونکی فضا برابره کړې ده.

**مدیریت انضباط شـهری و مدیریت تنظیم مارکیت‌های شـاروالی شـبرغان ولایـت جوزجان جهـت تنظیم و برچیدن ریله‌های خودسر در اطراف پارک بخدی ولایت جوزجان توصیه صورت گرفت و به فروشـندگانی که به گونه خودسر و بدون مجوز هدایت داده شـد تا به جمع آوری ریله‌های خویش اقدام نمایند.**




**کارکنان تنظیف و سرسـبزی شـاروالی شکردره ولایت کابل با همکاری مردم این ولسـوالی اطراف بند شـاه و عروس را از زباله ها پاکسازی کردند و زباله ها را به مکان مناسب آن انتقال دادند.**



د افغانستان اسلامی امارت
د چارو اداري لوى رياست
د مطبوعاتو رياست

# رغونه اونیزه

د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## د کندهار ښار په شپږمه ناحیه، دویم گذر کې د یو مهم سرک رغولو چارې پیل شوې


کندهار ۱۴

کندهار ښاروالۍ د خپلو پرمختیایي کارونو په دوام داخل د ښار په شپږمه ناحیه او دویم گذر کې پلانو ته څېرمه د یو مهم سرک رغولو چارې پیل کړې.

دا سرک د ده محسوس له عمومي سرک څخه پیل بیا تر نوي کلاچې پورې غځېدلی چې تقریبا ۶۳۰ متره اوږدوالی او اووه متره پلنوالی لري، فعلا یې رغنیزې چارې پیل شوې چې پاتې کارونه به یې د دوو اونیو په موده کې پای ته ورسیږي.

د یاد سرک په رغولو کې هره ورځ ۲۵ کسان په فني او غیر فني ډول په کار کولو بوخت دي.

د همدې سرک په رغولو سره د سیمې خلکو زیاته خوښي ښوده او د کندهار ښاروالۍ د دې مهم گام څخه یې ځانگړې مننه وکړه.

### داوطلبی خبرتیا

نېټه: ۰۷/ غوایی/ ۱۴۰۴

د کندهار ښاروالۍ ملکیت د څلورمې ناحیې اړوند د شرقي او غربي کباړي مارکیټونو لاندې پارکینگ د شرطپاڼې مطابق د یوه کال لپاره د ازادې داوطلبۍ له لارې په اجاره ورکوي.

ټول هغه اشخاص چې په شرایطو برابر وي او غواړي چې په داوطلبۍ کې گډون وکړي خپل غوښتنلیکونه دې د ۱۴۰۴ کال د غوایي میاشتې له اوومې نېټې څخه تر ۲۱ نېټې پورې د ښاروالۍ ریاست د تدارکاتو او قراردادونو امریت ته وسپاري او وروسته دې شرطپاڼه له مسؤول کس څخه ترلاسه کړي.

د اجارې له سرجمع څخه ۲۰ فیصده تضمین نقدا اخیستل کیږي او د داوطلبۍ غونډه به د روان کال د غوایي میاشتې پر ۲۲ نېټه د دوشنبې په ورځ د سهار پر ۹ بجې د ټاکل شوې هیئت په حضور کې د تدارکاتو او قراردادونو په امریت کې ترسره شي.

د زیاتو معلوماتو لپاره په لاندې شمېرو اړیکه ونیسئ.

۰۷۰۰۴۳۳۵۶۷ / ۰۷۰۷۱۵۹۷۱۸

کندهار ولایت

## فراه ښاروالۍ مالي او اداري چارو امر ښار کې د تنظیف مدیریت د پرسونل څخه لیدنه وکړه



فراه ۱۵

د فراه ښاروالۍ مالي او اداري امر ښاغلي ملا امین الله الهام د ښار د پاکوالي او تنظیفاتي وضعیت د ارزونې په موخه د تنظیف مدیریت له پرسونل څخه د ښار په بېلابېلو برخو کې لیدنه وکړه.

فراه ښاروالۍ مالي او اداري چارو امر ښاغلي الهام د تنظیف کارکوونکو ستونزې او غوښتنې واورېدې او د دوی د خدمتونو ستاینه یې وکړه.

نوموړي تنظیف پرسونل د ښار د پاکوالي اتلان یاد کړه او یاد پرسونل ته یې سپارښتنه وکړه چې خپلې دندې لا ښې پر مخ یوسي، ترڅو مو ښار لا هم پاک پاتې شي.

## په دویمه ناحیه کې د دریم پلان اړوند د پارک د جوړیدو چارې ۹۵ سلنه پرمختگ لري


غزني ۱۶

غزني ښاروالۍ ریاست او یونیس نړیوالي موسسې په مرسته د غزني ښار د سمسورتیا او آبادۍ په موخه د دریم او څلورم پلان د پارک د جوړیدو چارې د بشپړتیا په لور رواني دي.

د خوندي ښارۍ فضا د رامنځته کولو په موخه د یاد پارک د احاطې دیوال د کتارو لگول د پلو لارو د مزاییکو په کارولو سره، د نیالگیو کېنول او د رنگ چارې بشپړې شوې دي.

او اوس مهال د سمسورتیا لپاره یې د چمن کرلو چارې رواني دي. چې ډېر ژر به گټې اخیستنې ته وسپارل شي. دغه پارک چې د ۸ میلیونو افغانیو په ارزښت په ۱۱۷۷۳ متره مربع ځمکه کې جوړیږي د دریم او څلورم پلان اوسېدونکو ته د خوښۍ زېری دي. د احاطې دیوال له جوړولو سربېره د دغه پارک پلې لارې د مزاییکو په کارولو سره په معیاري توگه جوړ شوې دي.

چې د دې سره به د یاد پارک د ودې او ساتنې په موخه نور اړین تاسیسات هم ورغول شي تر څو ښاریان وکولای شي ټولنیزو آسانتیاوو ته لاسرسي پیدا کړي.


د یادولو وړ ده چې د یاد پارک ځمکه د ښاروالۍ ریاست له لوري ۱۷۳ میلیونو افغانیو په ارزښت اخیستې او اوس د یاد ریاست په همکارۍ او یونیس نړیوالې موسسې په مالي ملاتړ د پارک چارې ۹۵ سلنه پرمختگ لري او ډېر ژر به بشپړ شي.

ریاست شاروالی ولسوالی انجیل ولایت هرات در جلسه ای با حضورداشت وکلای گذر، رؤسای شورا، علماء کرام و محاسن سفیدان این ولسوالی، حکم شماره (۱۷) عالیقدر امیرالمؤمنین حفظ الله تعالی، پیرامون جلوگیری از عنعنات نادرست هنگام خویشاوندی، عروسی ها، مصیبت ها و همچنان بازگشت از حج و عمره را به طور مشرح ابلاغ نمود .



هرات ۱۷

## نظارت شاروال تالقان از جریان ساخت مارکیت تجارتی چهار منزله



تخار ۱۸

مولوی عبدالغفور سیرت شاروال تالقان ولایت تخار، امروز (یکشنبه ۷ ثور) از جریان کار ساخت و ساز مارکیت تجارتی چهار منزله که در ساحه توت‌باغ شهر تالقان در حال اعمار است، نظارت نمود.

آقای سیرت، ضمن بررسی چگونگی پیشرفت کار ساختمانی، بر اهمیت رعایت معیارهای فنی، کیفیت مواد ساختمانی و تطبیق نقشه تأکید ورزید و مسئولین تطبیق کننده این پروژه را مکلف ساخت تا روند کار را مطابق به معیاد تعیین شده تسریع بخشند.

در جریان این بازدید شاروال تالقان افزود که شاروالی تالقان متعهد به حمایت از پروژه‌های انکشافی و فراهم‌آوری سهولت های بیشتر برای شهروندان می‌باشد.

قابل ذکر است که با تکمیل این مارکیت، زمینه‌ی فعالیت های تجارتی برای تعداد زیادی از باشنده‌گان شهر فراهم خواهد شد.

مدیر عمومی ناحیه دوم شاروالی تالقان (امروز یکشنبه ۷ ثور) با بازدید از ساحات مختلف این ناحیه، فعالیت یک باب موتر شویی را فاضلاب را به جویچه پیاده‌رو تخلیه نموده است الی اطلاع ثانی به تعلیق در آورد و از ساخت‌وسازهای خودسرانه نیز جلوگیری بعمل آورد.



تخار ۱۹

## والي ولایت پروان از شــاروالی شــهر چاریکار دیدن به عمل آورد



پروان ۲۰

مفتی محمد ادریس انوری، والي ولايت پروان امروز یکشنبه به هدف نظــارت از عمل کرد، دریافت چالش‌ها و تشــویق فعالیت‌های شاروالی از ریاست و مدیریت های شاروالی شهر چاریکار دیدن کرد.

والي ولایت پــروان همراه با حافظ رازمحمد یاسر، شــاروال چاریکار و مدیــران عمومی این اداره از تمــام مدیریت‌ها و شــعبات شــاروالی دیدن نمودند و از فعالیت‌ها و مشکلات آگاهی حاصل کردند.

والي ولایت پروان از کارکردهای شــاروالی ستایش نمود و از فعالیت‌های تمام کارمندان شــاروالی چاریکار ابراز قدردانی نمودند.

## د کمال نبي زاده خلور لارې څخه بیا تر استیناف محکمې خلور لارې پورې د سړک دواړو خواوو پلو لارو او ګلدانیو بیارغولو چارې ۷۰٪ سلنه پر مخ تللي



مزار شریف ۲۱

د مزارشریف ښــاروال حافظ عبدالرحــمن همت په ځانګړې لارښــوونې د ښار ښــکلا او ښــېرازی په موخه د مزارشریف ښاروالۍ پراختیایي بودیجې څخه د شاوخوا ۳،۵ لکه افغانیو په ارزښــت د کمال نبي زاده څلور لارې څخه بیا تر استیناف محکمې څلور لارې پورې د ســړک دواړو خواوو پلو لارو دېرو لګولو او ګلدانیو بیارغولو چارې ۷۰ سلنه پرمخ تللي.

همدارنګــه پلو لارو کې د ډبرو لګولــو، د ګلدانیو بیارغولو، د بریښــنایي پایو لګولو او دواړو خواوو دیوالونو رنګمالۍ چارې هم نوموړي پروژه کې شــاملې دي، چــې ۳۰ ورځو کې یې چارې بشپړیږي.

د پروژې په بشــپړیدو سره به ښــاریانو تــګ راتګ ته ګنې اسانتیاوې برابرې شي.

## د ســلطان غــازي بابا ښــار ګوټــي دروازې ترخنګ د علیشنګ په مســیر د عمومي سړک د ویالو او پلچکونو پاک کاري ترسره شوه


لغمان ۲۲

د ښــاري نظم د پاک چاپیریال ســاتنې په موخه د مهترلام ښــاروالۍ د تنظیف زیارکښو کارکونکو له لوري نن د مهترلام ښار د سلطان غازي بابا ښارګوټي دروازې ترخنګ د علیشنګ په مسیر د عمومي سرک د ویالو او پلچکونو پاک کاري ترسره شوه.

یاده پاک کاري کــې له ویالو او پلچکونو څخه کثافات راټول کړل شول او یو مناسب ځای ته انتقال او دفن کړل شو.

د مهترلام ښاروالۍ د تنظیف زیارکښ کارکونکي د سهار له ۷ بجو څخه تر مازیګر ناوخته پورې د مهترلام ښــار په پنځه واړه ناحیــو کې خپل فعالیتونه کوي او خلکو لپاره پاک چاپیریال برابروي.

مهترلام ښــاروالۍ رهبرۍ له ټولو ښاریانو څخه غوښتنه کوي چې د ښــار په پاک چاپیریال ســاتلو کې له ښــاروالۍ سره همکاري وکړي، کثافات د ښــاروالۍ له لوري په لګول شویو کثافت دانیو کې واچوي ترڅو د ښاروالۍ د تنظیف ډلې یې یو لرې ځای ته انتقال او دفن کړي.

## د ښاریانو شکایتونو ته لاس رسی کیږي



کنړ ۲۳

د اسعداباد ښاروالۍ د ښــاري حکومتولۍ برخې مسؤلین د ښار په بیلابیلو برخو کې د نصب شویو شکایت بکسونو څخه د ځانګړي مهال ویش لمخې شــوي شــکایتونه راخلي او د ځانګړي کمیټې په مټ یې څیړي.

شوي شــکایتونه اړونده مدیریتونو ته د حل په موخه استول کیږي ترڅو د ښاریانو رضایت حاصل او ستونزې یې حل شي.

## کار ســاخت یک سرک در ناحیه اول شهر مزارشریف به سرعت جریان دارد


مزارشریف ۲۴

کار ســاخت (کانکریت ریزی) سرک عقب مکتب ســلطان راضیه به هزینه حدود یک میلیون افغانی از بودیجه انکشافی شــاروالی که طول آن ۱۳۰ متر و عرض آن ٦ متر می‌باشد در ناحیه اول شهر مزارشریف جریان دارد.

کار کانکریت ریزی جویچه های آن در حال جریان اســت که روزانه برای ۲۰ الی ۳۰ تن شهروند زمینه اشتغال زایی فراهم شــده است و میعاد تکمیل کار پروژه مذکور یک ماه کاری می‌باشد.

با ساخت سرک های مذکور تسهیلات بیشتر برای عبور و مرور ترافیک و شهروندان این ساحه فراهم خواهد شد و شهروندان ســاحه متذکره از کارکرد و فعالیت های شاروالی مزارشریف ستایش و از ساخت سرک مذکور ابراز خرسندی نمودند.

## اسعد اباد ښار د ښــاري نظم کمیسیون په ورځني ډول خپل فعالیتونه ترسره کوي


کنړ ۲۵

د کنړ ولایت اسعد اباد ښاروالۍ د ښاري خدمتونو مدیریت له لوري د ښــاري چارو د تنظیم په موخه جوړ شــوي ځانګړي کمیسیون خپل فعالیت ترسره کوي، هڅه کوي ترڅو په ښار کــې د توکو کیفیــت او نرخونو کنټرول پــه برخه کې خپل اجراآت ترسره کړي.

همدې اصل ته په کتو نن ورځ په ښــار کې د یو لړ هغو هټیو څخه نظارت ترسره شو چې ښاریانو ته پاخه شوي خواړه تهیه کوي، د نظارت په ترځ کې ورته د حفظ الصحې رعایت او ښه خدمتونو د وړاندې کولو سپارښتنې وشوې.

## روزګان مرکز ترینکوټ ښار کې د لوحو او تابلوګانو څخه نظارت ترسره شو




د روزګان ولایـــت د ترینکوټ ښـــاروالی او اطلاعاتو او کلتور ریاست په نوبت د مرکز ترینکوټ ښار په مختلفو برخو کې د بهرنیو ژبو د لوحو، تابلوګانو او اعلاناتو د اصلاح نظارت ترسره شو.

دا نظـــارت د ملي ژبـــو د ترویج او د بهرنیـــو ژبو د غیر ضروري اســـتعمال د مخنیوي په موخـــه ترسره کیږي، ترڅو د ملي هویت او کلتوري ارزښتونو پیاوړتیا باوري شي.

همدارنګه د اطلاعاتو او کلتور ریاســـت د اطلاعاتو امر، ښـــاغلي ضمیر وویل چې د دې نظارت لپاره د مختلفو دولتـــي ادارو د غړو څخه یوه ګډه کمېټه جوړه شـــوې ترڅو پـــه مرکز ترینکوټ او ولســـوالیو کـــې د لوحو او تابلوګانو متنونه اصلاح کړي.

یادي کمېټې د ترینکوټ ښار په احمدشاه بابا او نازو انا جادو کـــې د هغو لوحو د اصلاح چارې ترسره کړې چې په بهرنیو ژبو لیکل شوي وې؛ د اصلاح په ترڅ کې هغه لوحـــې چې په بهرنیو ژبو لیکل شـــوې وې، په ملي ژبو (پښتو او دري) بدلې شوې، څینې لوحې او تابلوګانې چې د طرزالعمل خلاف وې، د اصلاح لارښوونه ورته وشوه.

ټاکل شوې ده چې دغه نظارت د ترینکوټ ښار په نورو برخو او ولسوالیو کې هم ترسره کېږي.

ښاغلي ضمیر ټینګار وکړ چې د دې اقدام موخه د ملي هویت ســـاتنه او د خلکو په منځ کې د ملي ژبو ارزښت زیاتول دي.

د ترینکوټ ښار اوسیدونکو د دې نظارت هرکلی وکړ او ویې ویل چې د ملي ژبو ترویج د دوی کلتور او هویت د ساتنې لپاره اړین دی.

هغوی غوښتنه وکړه چې دا ډول هڅې باید په دوامداره توګه ترسره شي ترڅو ملي ارزښتونه خوندي پاتې شي.

د روزګان د اطلاعاتو او کلتور ریاســـت دغه اقدام د ملي ژبو او کلتور لپاره یو ګټور ګام بولي چې د ټولنې په ژبني او کلتوري شعور په لوړولو کې به مهم رول ولوبوي.

## په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د کندز ښـــاروالی پرمختګونه او لاسته راوړنې




د کندز ښـــاروالی راټول شوي عواید چې د کندز ښاروالی د چلښـــت سرچینه بلل کیږي د کندز ښاروالی د مشرتابه لخوا ورته ځانګړې پاملرنه شوې ده.

کندز ښاروالی په تیر ۱۴۰۳ لمریز کال کې څه باندې ۲۰۵ میلیونـــه افغانۍ عواید د صفایي محصـــول، صنفي جوازونو، ښـــاري خدمتونو محصول او د کندز ښـــاروالی له جایدادونو ترلاســـه کړي چې د کندز ښـــاروالی په تاریخ کې تر اوسه په دومره کچه عواید نه و راټول شوي.

یـــادي اداري ۵۸۶۷۶۹۳۴ افغانـــۍ عـــادي بودجـــه او ۱۲۵۳۱۶۱۹۵ افغانۍ پرمختیایي بودجه په مصرف رسولې ده.

همداراز په تیر کال کې ۳۷ میلیونه افغانۍ د کندز ښاروالی هوټل په پروژه او څینو نورو نیمګړو پروژو مصرف شوي دي.

## کانکریت‌ریزی بیش از یک کیلومتر جاده فرعی در شـــهر چاریکار آغاز گردید

کانکریت ریزی بیـــش از یک کیلومتر جـــاده فرعی با هزینه ۲۱ میلیون افغانی از بودیجه ریاســـت شاروالی چاریکار با حضور حافظ رازمحمد یاسر، شـــاروال شهر چاریـــکار ولایت پـــروان، مدیـــر انجنیری شـــاروالی، نمایندگان مقام ولایت و ریاست شهرسازی آغاز گردید.

شـــاروال شـــهر چاریکار با هیئت انجنیری شـــاروالی چاریکار از چگونگی روند کانکریت‌ریزی، کیفیت مواد و درصـــدی پیشرفت پـــروژه مذکور نیز دیـــدن نمود و به شرکـــت قراردادی هدایت داد تا در جریان تطبیق پروژه از مـــواد بـــا کیفیت اســـتفاده نمـــوده و کار مطابق به معیارهای انجنیری به طور دقیق پیش برود.

قابل ذکر است که این پروژه در ناحیه سوم و چهارم شهر آغاز گردید که عنقریب تکمیل و به بهره‌برداری ســـپرده خواهد شد. این پروژه شامل آبروهای کنار جاده، پیاده رو با سنگ فرش، گلدان های کنارجاده و دیوار کنار نهر عمومی می‌باشد.

پروان ۲۸

## پکتیکا کې د فعالو مؤسساتو له مسؤولینو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه




د ښرني ښاروالی ریاست په بلنه د یاد ریاست په مقام کې د فعالو مؤسسو له مسؤولینو سره د همغږۍ ناسته ترسره شوه، چې ښرني ښاروال، د ســـکتوري خدمتونو عمومي مدیر او د مختلفو موسساتو مسؤولینو او استازو برخه پکې درلوده.

د غونډې په پیل کې ښـــرني ښاروال الحاج مولوي سرداروليِ ثابت تولو برخوالو ته د ښـــه راغلاســـت ترڅنـــګ په بشري، بیارغونـــې، کډوالـــو، روغتیـــا، زده کړو او نـــورو برخو کې د موسساتو فعالیتونه او خدمتونه وستایل او په دې برخه کې د لا ډېرو برنامو د تطبیق غوښتنه وکړه.

نوموړي وویل؛ له نننۍ ناستې څخه یې موخه په پکتیکا کې د فعالو موسســـاتو له مســـؤولینو سره همغـــږي، معرفت او همدارنګه د ښـــاروالی ریاســـت په چوکاټ کې د ښرني ښار اړوند په خدماتي، پراختیایي او ساختماني برخو کې اړتیاوې او غوښتنې له یادو مسؤولینو سره شریکول دي.

ښاغلي ثابت زیاته کړه، دا چې ښرنه نسبتاً وروسته پاتې ښار دی او په تېر کې هم خاصه پاملرنه نه ده ورته شوې، هیله ده په پکتیکا کې فعال موسسات له ښاروالی ریاست سره په ګډه د دې وروسته پاتې ښار په ابادولو کې برخه واخلي او د دوی غوښتنو او اړتیاوو ته په خپل طرزالعمل او لایحه کې ځای ورکړي.

د ښـــرني ښاروالی ریاست د سکتوري خدمتونو عمومي مدیر انجنیر نصرالله اندړ د ښرني ښار عمده ستونزې او اړتیاوې له برخوالو سره شریکې کړې او زیاته یې کړه، چې ښرنه ښاروالی د عوایدو د کمښـــت له خاطره نشي کولای د ښار ټولو اړتیاوو ته رســـیده ګي وکړي، په همدې خاطر ښـــرنه ښاروالی هیله لري، چې په پکتیکا کې فعال موسسات ذکر شوې ستونزې او غوښـــتنې په خپلو طرزالعملونو کې ځای او له ښاروالی سره یې په ګډه د حل کولو هلې ځلې وکړي.

د موسساتو مسؤولینو دا ډول غونډې د همغږۍ او ستونزو ته د رسېدو په برخه کې اغېزناکې وبللې او په نوبت یې د خپلو ادارو طرزالعملونـــه او لایحې تشریح کـــړې، دوی ژمنه وکړه، چې د ښـــرني ښـــار اړتیاوې او غوښـــتنې به له خپلو مرکزي دفترونو سره شریکوي او حل لارې به ورته لټوي.

رغونه اونیزه

# د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

دافغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## گرشــک ښــاروالۍ له لوري د یو شــمېر هوټلونو څخه نظارت ترسره شوو



هلمند ۳۰

د گرشک ښاروالۍ د تنظیم گډ پلاوي د ښاروال صاحب د هدایت په اســاس د گرشک ښار له یو شمېر هوټلونو څخه نظارت ترسره شو.

د گډ پلاوی له لوري ورته یو شمېر سپارښتنې وشوې د نظافــت او نرخنامې پــه برخه کــې، همدارنگه جدي سپارښتنې ورته وشوې ترڅو بغیر له ټاپې غوښې دې نه پخوي او پاکې او صفا غوښې دې پخوي او خرڅوي.

د سرغړونــې په صورت کې بــه ورسره قانوني او اصولي چلند کېږي.

## کندهار ښاروالۍ د ښار په مختلفو سیمو کې له نانوایانو څخه نظارت ترسره کړ





کندهار ۳۱

د کندهار ښــاروالۍ اړوند د مارکېټونو تنظیم امریت، د ښار په اوله، نهمه، دیارلسمه او څوارلسمې ناحیې اړوند له بېلابېلو نانوایانو څخه د ټاکل شوې نرخنامې مطابق د ډوډۍ وزن او قیمت معلومولو په موخه نظارت ترسره کړ.

په دې نظــارت کې هغو نانوایانو تــه د تخلفی پارچې ورکړل شــوې، چې د ډوډۍ په وزن کــې يې سرغړونه کړې وه.

کندهار ښــاروالي په ښار کې له نانوایانو څخه د نظارت چارې په منظمه توگه پر مخ وړي، ترڅو د ټاکل شــوې نرخنامې مطابــق د ډوډۍ وزن، قیمــت او کیفیت له نږدې وڅاري.

## اداره شاروالی ولسوالی نهرین ولایت بغلان در نظر دارد تا با توجه به نیاز مردم، در چندین جای مناســب تشناب های عصری و معیــاری را برای طبقه اناث و ذکور اعمار نماید که به همین سبب کار حفر یک حلقه چاه عمیق را از بودجه انکشافی این شاروالی تکمیل نموده است.



بغلان ۳۲

## کندهار ښاروالۍ کې د ۲٤ ســاعته بازار رامنځته کولو په موخه غونډه ترسره شوه.

د کندهار ښاروالۍ اړوند د ټولنیزو او کلتوري چارو امریت له لوري د ښــاروالۍ د غونډو په تالار کې د ۲٤ ســاعته بازار رامنځته کولو په موخه غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کــې د ټولنیزو او کلتوري چارو امر، د مارکېټونو تنظیم امر، د اطاق تجارت، د اصنافو، وکیلانو، د ښار جوړولو ریاست، دامنیه قومندانۍ او داقتصاد ریاست استازو گډون کړی وو.

غونډه د قرانکریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه، د غونډې په پیــل کې د ټولنیزو او کلتــوري چارو امر ټولو گډونوالو ته د ښــه راغلاست وینا وکړه او د ۲٤ ساعته بازار د رامنځته کولو پر ارزښت يې هر اړخیزې خبرې وکړې.

نوموړي د شــپې بــازار د اړتیاوو او گټو پــه اړه گډونوالو ته معلومات ورکړل.

همدارنگه د مارکېټونو تنظیم امر هم د ۲٤ ســاعته بازار پر اهمیت او اغېزو رڼا واچوله، نومــوړي وویل چې د دغه بازار رامنځته کول به د ښار د اقتصادي ودې لپاره یوه نمونه وي.

د اطاق تجارت استازي هم د غونډې په ترڅ کې خپلې خبرې وکړې، نوموړي وویل د ۲٤ ساعته بازار په رامنځته کولو سره بــه اقتصادي روحیه پیاوړې شي، د محلي تولیداتو ملاتړ به زیات شي، ټولنیز ارزښتونه به رامنځته شي، د ولسوالیو او ښار ترمنځ اړیکې به پراخې شي او کاري فرصتونه به ایجاد شي.

په غونډه کې د راغلو ریاستونو اســتازو هم د موضوع اړوند خپل نظرونه او وړاندیزونه وړاندې کړل، د وړاندیزونو او نظرونو پر بنسټ دا پرېکړه وشوه چې د راتلونکي مجلس په ترڅ کې به د یو تفصیلي پلان سره ســم د ۲٤ ساعته بازار د جوړېدو بهیر د ښــاروالۍ له موجوده مارکېټونــو څخه پیل شي، همدارنگه د ۲٤ ساعته بازار د اهمیت اړوند د عامه پوهاوي پروگرامونه به هم پیل شي، ترڅو خلکو ته د ۲٤ ساعته بازار اهمیت او ارزښت روښــانه شي او دا بهیر په بریالیتوب سره وغځول شي.

کندهار ۳۳

## په مهترلام ښــار کې د ښــوونځیو لپاره د پاک چاپېریال ساتنې د عامه پوهاوي د کمیټو جوړولو لړۍ پیل شوه




لغمان ۳٤

لغمان کې د مهترلام ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ امریت له لوري د ښاري پاکوالي او د عامه پوهاوي د پراخولو په موخه د ښوونځیو د زده کوونکو او ښوونکو په منځ کې د پاک چاپېریال ساتنې د عامه پوهاوي کمیټو جوړولو لړۍ پیل شوه.

د مهترلام ښــاروالۍ د ښــاري حکومتولۍ امر الحاج عباس عمري د دې برنامــې د پیل پر مهال وویل، چې دا لړۍ به د مهترلام ښــار په ۱۲ ښوونځیو کې تطبیق شي، نوموړي زیاته کړه چې د دې نوښــت موخه د زده کوونکو او ښوونکو ترمنځ د پاک چاپېریال ارزښــت په اړه عامه پوهاوی لوړول او د ښاري نظم په ټینگښت کې د خلکو همکاري پراخول دي.

د یادې برنامې لومړی پړاو د مهترلام ښــار د پنځمې ناحیې اړونــد د مهترلمک ښــوونځي څخه پیل شــوه، چې دولس ښوونځیو کې به تطبیق شي.

عباس عمري د مهترلمک ښوونځي له رهبریت څخه غوښتنه وکړه چې زده کوونکي د پاک چاپېریال ساتنې په اهمیت پوه کــړي تر څو یاد زده کوونکي دا پیغامونه خپلو کورنو او ټولنې ته ورسوي.

په ورته مهال، د مهترلمک ښــوونځي امر عبدالصمد صافي، استادانو او زده‌کوونکو د ښــاروالۍ له دې ارزښتناک اقدامه منــنه وکړه او ژمنه يې وکړه چې د پاک چاپېریال ســاتنې په برخه کې به فعاله ونډه واخلي، د ښــاروالۍ د پاک چاپېریال ساتنې پیغامونه به ښوونځي کې د تطبیق ترڅنگ خپلو کلیو او کورنو ته هم ورسوي.

## کارکنــان خدماتی بخش تنظیف شــاروالی هرات، پاک کاری کانال‌های عمومی سطح شــهر، بروغ‌ها، جویچه هــای سرپوشــیده و باز در ســطح نواحــی پانزده‌گانه شــهری، جمع‌آوری زباله‌ها و جاروب‌کشــی سرک‌ها و پیاده‌روها را بطور دوامدار در دو شیفت شب و روز انجام می دهند.



هرات ۳۵

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی رياست
د مطبوعاتو رياست

رغونه
اونيزه

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## په ترينکوټ ښار کې يو ځل بیاد ښاري پیاده رووںو د خلاصون په موخه ګډ کمپاین پیل شو


اروزگان ۳۶

د اروزگان ولایت مرکز ترينکوټ ښار اړوند ځلورو ناحیو کې د ښاري نظم د لا ټینګښت په موخه ګډ کمپاین پیل شو.

یاد کمپاین د ترينکوټ ښاروال مولوی عبدالرشید "هدايت الله" د لارښوونې سره سم په ښار کې د هغو هڅو څخه تر سره شو. چې پلې لارې يې د خلګو پر مخ تړلي وې او خلګ يې له زیاتو ستونزو سره مخ کړي وه.

د ښاري نظم کمېټې د کمپاین پر مهال هټیوالو ته د پلې لارو د خلاصون په هدف توصیه وکړه تر څو پلې لارې خلاصې کړي او ښار کې خلګ له ستونزو سره مخ نه کړي.

همداراز د ښار انظباطي ټیم مسؤول قاري عبدالقوي وايي چې د ستونزو د مخنيوي په هدف د ښار څخه وخت پر وخت نظارت کول مثبتې پايلې لري.

نوموړي زیات کړه چې نور هم کوشش کوو چې ښار ته د پوره پام اړولو تر څنګ د ښاري بې نظمۍ مخه ونیسو او د ښاريانو ستونزو ته پر وخت رسېدنه وکړو.

## ګرديز ښار کې د سرسبزۍ برخې چوپړونه جریان لري


پکتيا ۳۷

ګرديز ښاروالۍ د تنظیف او سرسبزۍ څانګې کارکوونکو لخوا، ګرديز ښار ګلدانونو، څلورلارو او ښار په ټولو برخو کې؛ د نیالګیو اوبه کولو چارې د ورځني منظم پلان له مخې په ښه ډول روانې دي.

په ښار کې د زرغونو ساحو ساتنې او پراختیا په هدف، ګرديز ښاروالۍ د نیالګیو اوبه کولو، ساتنې او روزنې لپاره اغیزمن فعالیتونه او هڅې پیل کړې دي، چې د ورځې له مخې د دې ونو او زينتي بوټو د خړوبولو لپاره لس د اوبو لوی ټانکرونه په مصرف رسېږي ترڅو په ګرديز ښار کې زرغونتيا او سمسورتیا په سمه توګه رامنځته او وساتل شي.

## ګرديز ښار کې ګڼ شمېر تاریخ تېر او بې کیفیته خوراکي او غیرخوراکي توکي وسوځول شول



پکتيا ۳۸

صنعت او سوداګرۍ ریاست په مشرۍ، ګرديز ښاروالۍ او د ولایتي ادارو ټاکل شوي ګډ کمیسیون لخوا، د ښار په بېلابېلو ساحو کې د هڅيو څخه د دوامداره پلټنې په جريان کې ۳۵ ټنه راټول شوي تاریخ تېر خوراکي او غيرخوراکي توکي او مشروبات په مصؤن ځای کې وسوځول شول.

یاد تاریخ تېر مواد د اته میاشتو راهیسې، په ښار کې په ورځني ډول د پلټنو په جريان کې راټول شوي، چې نن د ګرديز ښار پنځمې ناحيې اړوند، بنوزيو خوندي ساحه کې د رسنيو پر وړاندې وسوځول شول.

د ټاکل شوي کمیسیون په جوړښت د صنعت او سوداګرۍ ریاست په مشرۍ د ګرديز ښاروالۍ په ګډون ځينې نورې ولایتي اداري شتون لري، چې د خوړو د خونديتوب په برخه کې به ولسونو ته د عامه پوهاوي تر څنګ، په بازار کې له خوراکي او غيرخوراکي توکو څخه وخت پر وخت څارنه کوي او په ښار کې به په دوامداره توګه د ټولو هغو کړنو مخه ونيسي، چې د خلکو د روغتيا لپاره زيانونه اړوي.

کار کانکریت‌ریزی سرک لیسه ستاره به طول ۱٤٦ متر و عرض ۱۱,٦٥ متر واقع در ناحیه چهارم شهر میمنه جریان و این پروژه به میزان ٤٥ درصد پیشرفت نموده است.
گفتنی است که کار بالای بخش باقی‌مانده این سرک با سرعت جریان دارد و قرار است در روزهای آینده تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شود.
شاروالی میمنه مصمم است تا با تطبیق پروژه‌های انکشافی، زیربنایی و عام‌المنفعه، زمینه زندگی بهتر و سهولت‌های بیشتر را برای شهریان عزیز فراهم سازد.


فاریاب ۳۹

## رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از پروژه های انکشافی شهر نظارت نمود


مزار شریف ۴۰

استاد محمد جاوید مایار، رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف از یک تعداد پروژه های انکشافی در ساحات ناحیه های اول، چهارم و ششم شهر مزارشریف نظارت نمود و بر کیفیت و تکمیل پروژه ها در وقت معین آن تأکید نمود.

رئیس سکتوری و تخنیکی شاروالی مزارشریف در جریان نظارت از ساخت سرک سرای قاضی الی پسته مزار در ناحیه اول شهر مزارشریف، ساخت سرک ظهرالدین در ناحیه چهارم شهر و اعمار یک سیلبر در ناحیه ششم شهر دیدار و بر کیفیت و ساخت سرک به صورت معیاری و مطابق شرطنامه قرارداد برای مسئوولین شرکت قراردادی هدایات لازم سپرد.

مسئوولین شرکت های قراردادی پروژه های متذکره از ساخت سرک ها به صورت اساسی و معیاری، مطابق شرطنامه قرارداد و بهره برداری آن در وقت معین اطمینان سپردند.

## د زیر زمیني مارکیټ رغولو چارې په چټکۍ سره روانې دي


میدان وردګ ۴۱


د میدان ښار ښاروالۍ له لوري منې ځلور لارې ته څېرمه د ګربت پنځه ستوريز هوټل مخې ته د زيرزميني مارکيټ د رغولو چارې په چټکۍ سره روانې دي، چې په اساسي او معیاري ډول رغول کيږي او په لنډه موده کې به د ښاروالۍ رياست له لوري ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

رغونه اونیزه

د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او
لاسته راوړنو خبري اونيزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

## د غزني ښاروال د کور او ښار جوړولو له رئیس سره کاري ناسته وکړه




غزني ۴۲

د غزني ښاروال، مولوي محمدنبي حمزه، د کور او ښار جوړولو ریاست له رئیس سره ځانګړې کاري ناسته وکړه. دغه ناسته چې د ښاري پراختیا د تسریع او د اساسي پلانونو د ترتیب په موخه جوړه شــوې وه، د غزني ښار د استراتیژیک پلان، تفصیلي پلان او د سرکونو د نقشو د ترتیب پر موضوعاتو متمرکزه وه.

په ناســته کې ښاغلي حمزه د ښــار د معیاري ودې او پرمختګ لپــاره د جامع پلان جوړولو اړتیا اړینه وبلله او څرګنده یې کړه چې د غزني د ښاري بنې د تنظیم لپاره باید واضحه، دقیق او عملي نقشې ترتیب شي.

د کور او ښار جوړولو رئیس هم د استراتیژیک پلانونو پر ارزښت ټینګار وکړ او د اړوندو برخو د همغږۍ، تخنیکي ملاتړ او لازمو همکاریو ډاډ ورکړ. نوموړي زیاته کړه چې د تفصیلي پلان او سرکونو د نقشو ترتیب به د غزني ښار د منظم پرمختګ لپاره بنسټیز ګام وي.

دواړو لورو ژمنه وکړه چې د یادو پلانونو د نهایي کولو او پلي کولو په برخه کې به پر شفافیت، تخنیکي معیارونو او ښاري اصولو ټینګار کوي.

د دغو اقداماتو په تطبیق سره به غزني ښار د ښېرازۍ، معیاري خدمتونو او ښاري سمون په لور مهم پرمختګونه تجربه کړي.

### د میدان ښــار ښــاروالی ریاســت له لــوري اقتصاد ریاســت ته څیرمه د ســیلاب اوبو د کنټرول په موخه بلولونه کېښودل شول


یاده ساحه چې د ګڼ شمیر دولتي اداراتو اداري ودانۍ پکې شتون لري، وخت ناوخت یې کارکوونکي او مراجعین د باران اوبو او سیلابونو له امله له ستونزو سره مخ کېدل.

د یادونې وړ ده چې د ښــاروالی ریاســت لــه لوري به امکاناتو ته په کتو د یادو اداراتو لوري ته له کابل کندهار لویې لارې څخــه د غځیدلي فرعــي سرک د هموارولو چارې هم تر سره شي.



میدان وردګ ۴۳

## خوست ښــاروالی: د ۲۱،٤ میلیونه افغانیو په ارزښت د سرک پروژه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



خوست ۴۴

مراسمو کې ښاروال مفتي شــهزاد نور راشد وویل چې خوست ښاروالی د ښــاریانو په همکارۍ تنظیف، ښاري حکومتوالی، سرسبزۍ او رغنیزو چارو کې بریالۍ روانه ده او د روان کال کې به بیا هم د ښــاریانو په عوایدو شاوخوا شل پروژې پلان کړي، چې ښــاروالی به یې په تطبیق کې له ټولو شته امکاناتو کار اخلي او پراختیايي پلان به تطبیق کړي.


د ښاروالي سکتوري او تخنیکي امر وویل چې، د شپږمې ناحیې اړوند د خوست او پکتیا عمومي سرک څخه تر اداري کمپلکس پورې د سرک او لښتیو جوړولو پروژه چې ۲۱،٤ میلیونه افغانیو په ارزښت او دوه پلچکونه هم پکې شامل دي بشپړ کړي.

نومــوړي وویل چې د سرک اوږدوالی ۱۲۵۰ متره او د لښــتي ۱٤٦۰ متره دی او چارې یې په شــپږو میاشتو کې د برابر بلډر ودانیز شرکت له لوري د قرارداد مطابق بشپړې شوې.

د پــروژې له بشــپړېدو سره، ښــاریان خوشــحاله دي او د ښاروالی خدمات ستایي او په راتلونکي کې د ورته نورو پروژو غوښتنه کوي.

مراســمو کې د ولایت مقام په شمول یو شمیر ملکي او نظامي ادارو مسؤولینو د رسنیو خبریالانو هم برخه درلوده.

### د قلات ښاروالی له لوري په خلورمه ناحیه کندهار اډه کې شــپږ بابه عامه تشــنابونه د ۷۸۸۲۰۷ افغانیو په لګښت ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه



زابل ۴۵

ښاروال قاري رحمت الله مسافر له ښاریانو څخه غوښتنه وکړه تر څو د یادو تشــنابونو ساتنې ته پاملرنه وکړي، نوموړي وویل موږ هڅه کوو چې د ښار په نورو برخو کې هم عامه تشنابونه جوړ کړو تر څو په دې برخه کې د ښاریانو ستونزې په بشپړ ډول حل شي او ددې تــر څنګ به په روان کال کې خپلې تولې پلان شــوې پراختیايي او رغنیزې پروژې د ښار په بېلابېلو برخو کې تطبیق کړو.

د یادونې وړ ده، چې په قلات ښار کې دوه ځایه نور هم هم د عامه تشنابونو جوړولو چارې جریان لري.

## کار نوســازی گلدان و پیاده رو چهارراهی شرقی روضه مبارک تکمیل و به بهر برداری سپرده شد



مزار شریف ۴۶

به اساس هدایت حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف به منظور پیشرفت، نوسازی و توسعه سرسبزی شهر، کار نوسازی و بازسازی گلدان و پیاده رو چهارراهی شرقی روضه مبارک توسط شاروالی مزارشریف به همکاری شرکت لوژستیکی محمود شاه آریا در مدت ۲۵ روز کاری تکمیل و به بهر برداری سپرده شد.

حافظ عبدالرحمن همت، شــاروال مزارشریف گفت: از گلدان چهارراهی مذکور بازسازی و نوسازی شهر مزارشریف آغاز شد و تلاش ها بر آن است تا در ماه های آینده پیاده روها و گلدان های اطراف روضه مبارک به صورت عصری و معیاری بازسازی شود.

شاروال مزارشریف از تاجران ملی و شهروندان شهر خواست تا در آبادی و شــگوفایی شهر مزارشریف ســهم بگیرند و مسؤولیت شهروندی خویش را اداء سازند.

محمد مهدی مسئوول تطبیق پروژه اطمینان سپرد که گلدان و پیاده رو متذکره مطابق طرح و دیزاین انجنیران شــاروالی و به صورت اساسی و معیاری ساخته شده است.

شهروندان شــهر مزارشریف از کارکرد و فعالیت های شاروالی مزارشریف جهت نوسازی و بازسازی چهارراهی ها و گلدان های اطراف روضه مبارک استقبال و وعده همکاری نمودند.

### کارکنان تنظیف و سرســبزی شاروالی ولسوالی بگرام جهت خدمات بیشــتر برای شــهروندان، نهال های زینتی را آبیاری نمودند و برای تزئین و زیبایی شــهر تلاش می‌کنند؛ همچنان شــاروالی از شهروندان می خواهــد که در قســمت آبیــاری نهال ها شــاروالی را همکاری نمایند.



بگرام/کابل ۴۷

## د غزني ولایت مرکز اړونده د ښار په بېلابېلو سیمو کې د ۴۰ میلیونــه افغانیو په لګښــت د څو فرعــي سړکونو دکانکرېټ او بیالو جوړولو چارې پیل شوې



غزنی ۴۸

پرانیســت غونډه کــې د غزني ولایت ښــاروال مولوي محمد نبــي "حمزه" د ولایت مقــام د کار کونکو چارو رئیس د ښاروالۍ ســکتوري او مسلکي امر د څارني او ارزوني امر  او د یاد ریاســت مالي او اداري امر د رسنیو یو شمېره مسؤولینو ګډون درلود.

د پروژو د پرانسې پرمهال د ښاروالۍ ریاست سکتوري او مســلکي امر فضل احمد مــدني وویل، د پراختیايي پروژو په دوام نن د دربیمې، څلورمې پنځمې او شپږمې ناحیو په مربوطاتو کې یو شمېر فرعي سړکونو رغول کېږي.

نوموړي وویل د غزني ښار په پښتون اباد، قلعه عشرت، نواباد او پښــتون مېنه او پښــتون اباد کې د څو فرعي سړکونو کانکرېټ او ترځنګ یې د بیالو جوړول شامل دي.

چې په وینا یــې په یادو پروژو باندې بــه ۴۰ میلیونه افغانیو لګښــت راځي چې د نړیــوال بانک له لورې ور کول کېــږي او چارې به یې د ښــاروالۍ ریاســت په همکارۍ د (UNOPS) مؤسسه مخته وړي.

هغــه زیاته کړه، په دغــو سړکونو کــې د هرې کوڅې اوږدوالــی ۶۰۰ متره او پلنوالی یې ٦ متره کېږي، چې کانکرېټ به شي او چارې به یې د دریو میاشتو په موده کې بشــپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. په دې پروژه کې به د ورځې سلګونو تنو کاریګرو ته د کار زمینه هم برابره شي.

ورته وخت کې د سیمې اوســېدونکي د بیا رغونې له دغــو چارو خوښ دي او غوښــتنه کــوي چې باید د کوڅو او سړکونو پخولــو کیفیت ته پاملرنه وشي او له اړونده اداري یې د ورتــه نورو پراختیایي پروژو د پلي کېدو غوښتنه  هم  کوي.

یو تــن قومي مشر وویل، دغه سړکونه د غزني ښــار له مهمو سړکونو څخه دي، چې هره ورځ پر دې لار سلګونه کســان تګ راتګ کوي او په وینا یې چې دغه سړکونو د خرابوالي لــه امله نه یوازې د ســیمې خلکــو، بلکې هتــې‌وال او نــور پــر لاره تلونکي عام خلــک او موټر چلوونکي هم ډېر په تکلیف وو.

باید وویــل شي چې څو ورځې وړانــدې هم د همدې مؤسسې له لورې د غزني ښــار ارباب، پښتون اباد او یو شــمېر نورو سیمو کې د فرعي سړکونو د جوړېدو چارې پیل شوې وې.

## په خوســت کې د مارکیټونو صنف مشرانو له ښاروال سره وکتل




خوست ۴۹

د خوســت ولایت د مارکیټونو صنف یو شمېر مشرانو د خوست ښاروال مفتي شهزاد نور راشــد سره د لیدنې پر مهال د ښاري نظم د ټینګښت، د صنفونو په انتقال، ښاري پراختیا، د پلیو لارو د خلاصون او جوړولو او د ګډو همکاریو په اړه خبرې وکړې.

همداشــان دوی خپلې غوښتنې او ســتونزې له ښاروال سره شریکې کړې او د ښــار د پاکوالې، ښــاري خدماتو چټکتیا، د دوکاندارانو د ستونزو حل او د ځمکو د انتقال په برخو کې یې د توجه غوښتنه وکړه.

خوست ښاروال مفتي شهزاد نور راشد د مارکیټونو صنف مشرانو ته د ښه راغلاســت ترڅنګ ډاډ ورکړ چې د پلیو لارو، سړکونو، پلچکونو او د ښاري پراختیا په برخه کې به ګډ کار کېږي.

ښاغلي راشــد ټینګار وکړ چې د ښــار نظم، پاکوالي او ښاري خدماتو ته ځانګړې پاملرنه شوې او هڅه به کېږي چې د ښاریانو ټولو ستونزو ته په ګډه رسیدنه وشي.

## کندهار کې په تېرو دریو اونیو کې ۲۲ ثبت شــویو بېلابېلو شکایتونو ته د حل په موخه رسېدنه شوې

د ښــار اوسېدونکو شکایتونو ته د رسېدنې او حل په موخه د شکایاتو څېړلو او حل کولو کمېټې د خپلو نوبتي مجالسو په تــرڅ کې په تېرو دریو اونیو کې د ۲۲  بېلابېلو ثبت شــویو شکایتونو ارزونه کړې او د حل لپاره یې لازم تدابیر نیولي دي.

یاده کمېټه هره اوونۍ دوه ځله، د دوشنبې او چهارشنبې په ورځو کې خپل رسمي مجلسونه ترسره کوي. هغه شکایتونه چــې د معلوماتي مرکز له لارې ثبتېږي، د کمېټې له خوا په دقت او  تفصیل سره څېړل کېږي او د حل لپاره یې اړین او غېزناک اقدامات ترسره کېږي.

دغه کمېټه د دعوت ارشاد امریت، د داخلي تفتیش امریت، د پــلان او پراختیا امریت او د انضباط شــهري مدیریت په همغږۍ سره رامنځته شوې ده.

د دې کمېټې اســاسي موخه دا ده چې د خلکو ستونزې او شکایتونه پر وخت، په شفاف ډول او د مسلکي ژمنتیا له مخې وڅېړل شي او د حل لپاره اغېزمــن اقدامات ترسره شي. د شــکایتونو پر وخت حل نه یوازې دخلکو ستونزو د رفع کولو زمینه برابروي، بلکې د ښــاروالۍ پر وړاندې د خلکو باور او اعتماد زیاتوي او د ښــاري ژوند د ښــه والي لپاره هوســا چاپېریال رامنځته کوي.

کندهار ۵۰

## ســمینار آموزشــی دور اول وکلای گذر نواحی پلخمری برگزار گردید




بغلان ۵۱

شــاروالی پلخمری ولایت بغلان، دوشــنبه (نهم ثــور) برنامه معلوماتی را برای وکلای گذر این شهر برگزار نمود.

ایــن برنامــه با تــلاوت قرآنکریم آغــاز گردید، پــس از آن آمر حکومتداری، پیرامون وظایف، چگونگی تعیین و عزل وکلای گذر صحبت نمود.

در اخیر این برنامه، با بحث آزاد از سوی اشتراک کننده‌ها و پاسخ مسؤولان به پایان رسید

## کورس ســواد آموزی برای کارکنان خدماتی شــاروالی میمنه ایجاد گردید




فاریاب ۵۲

شــاروالی میمنه به ابتــکار مدیریت اجتماعــی و فرهنگی در هماهنگی با ریاســت معارف ولایت فاریاب، امروز سه‌شنبه به منظور ارتقای ســطح آگاهی و باسوادسازی کارکنان خدماتی بخش تنظیف و سرسبزی شــاروالی، اقدام به راه‌اندازی کورس سوادآموزی نمود.

مفتی گل‌احمد مبشر، شــاروال میمنــه در مورد اهمیت علم و دانش از دیدگاه دین مبین اسلام پرداخت و از اشتراک کنندگان خواســت تا در کنار انجام وظایف محوله با علاقه‌مندی کامل از این فرصت آموزشــی بهــره گرفتــه و از آن در زندگی فردی و اجتماعی استفاده نمایند.


قابل یادآوری اســت که کارکنان خدماتی شاروالی، ایجاد این کورس را اقدامی ارزشمند دانستند و از فراهم‌شدن زمینه تعلیم و آموزش ابراز خرسندی نمودند.

**شاروالی ولسوالی گذره ولایت هرات، پروژه عام المنفعه اسفالت سرک گذر شکرخانی در ناحیه دوم این شاروالی را به طول ۴۱۲ متر و عرض ۱۰ متر، با هزینه مجموعی (۷۶۰۴۰۲۹) هفت میلیون و ششصد چهار هزار افغانی، از بودجه انکشافی شاروالی گذره آغاز نموده است که علاوه بر آسفالت سرک، کانال‌های آب و دو پلچک نیز ساخته می شوند.**



هرات ۵۳

## ښاریانو ته د خدمت په موخه د محمودراقي ښاروالی ورځنی کړنې




کاپیسا ۵۴

د محمودراقي ښاروالی د ښاري خدمتونو د لا ښه والي او مؤثریت په موخه، نن ورځ هم په بېلابېلو برخو کې ګڼ شمېر مهم فعالیتونه ترسره کړل؛ دغه کړنې د ښار د پاکوالي، شنو ساحو پراخوالي او ښاري چاپېریال د سمون لپاره دوام لري.


د نن ورځې مهم اقدامات په لاندې ډول دي؛ د ولایتي روغتون د محوطې دننه د اوبو د تېربدو لپاره د ویالې جوړول، ترڅو د روغتون لویدیځ لور ته د تپې نیالګیو ته اوبه ورسېږي، په ریګروان تفریحي پارک کې د ۱۰۰ زینتي مورپان نیالګیو کینول، د سرک غاړې ګلدانونو ته اوبه ورکول، د ګدان چوک په سیمه کې کینول شویو ګلانو ته اوبه ورکول او یو لړ نور مهم ښاري فعالیتونه د ښاروالی مسؤولین ټینګار کوي چې دغه ډول ورځنۍ هڅې به دوام ومومي، څو ښاریانو ته پاک، زرغون او سالم چاپېریال برابر شي.

**شاروالی امام صاحب ولایت کندز، امروز چهارشنبه (۱۰ ثور)، کار پاک کاری رسوبات ولوش های داخل جویچه های دو طرف سرک عمومی این شهر را آغاز نموده است.**



کندز ۵۵

## موزاییک کاری و کانکریت ریزی پیاده رو در ناحیه نهم شهر هرات به سرعت جریان دارد



هرات ۵۶

کار پروژه موزاییک کاری (انترلاک) و کانکریت ریزی پیاده‌رو لین شمال سرک از مسیر حوض کرباس الی هواده مربوط ناحیه نهم شهر هرات جریان دارد.

این پروژه به طول ۱۳۵۳ متر در عرض ۶ متر از سوی دفتر یونپس با همکاری ریاست شاروالی هرات در ناحیه نهم این شهر اجراء می گردد.

گفتنی است که با آغاز این پروژه روزانه برای ۱۱۰ تن از باشنده گان محل زمینه کار نیز مساعد گردیده است.

## جلال اباد ښار د ورځنیو چارو د چټکتیا، بهبود او پرمختګ په موخه غونډه ترسره شوه

د جلال اباد ښاروال قاري بسم الله بلال، مرستیال ښاروال مولوي محمد اسحق سعید او د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس انجنیر وحیدالله مخلص د نهه ګونو ناحیو امرینو، د عوایدو مدیرانو او د افمس کارکوونکو سره د ورځنیو کارونو چټکتیا، بهبود او د اصولي او قانوني عوایدو راټولولو په موخه ناسته ترسره کړه.

د جلال اباد ښاروال قاري بلال د ناحیو د امرینو، عوایدو مدیرانو او د افمس کارکوونکو ستونزې په مخامخ ډول واورېدې او اړوندو برخو ته یې لازمي سپارښتنې وکړې.

ښاغلي ښاروال وویل؛ د ښاروالی د ټولو اصولي او قانوني عوایدو په راټولولو کې جدي هڅې وکړئ؛ څومره مو چې د عوایدو راټولولو برخه غښتلې وي همدومره به مو ښاري او پروژوي خدمتونه په ښه ډول پرمخ ځي.

مرستیال ښاروال د کارونو په چټکتیا او سلسله مراتبو مراعت کولو تأکید وکړ او ټولو ته یې د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ.

د جلال اباد ښاروالی رهبري د چارو د پرمختګ، بهبود او غوره والي په برخه کې ژمنه ده او هڅه کوي په ټولو برخو کې غوره پرمختګونه رامنځته کړي.

جلال اباد ۵۷

## مهترلام ښار صدرالدین په څه باندې ۳۲ زره افغانۍ ګټونکي وشمېرل شو




لغمان ۵۸


د مهترلام ښاروالی د ټاکل شوې کمیټې په حضور کې د مهترلام ښار د لومړۍ ناحیې اړوند د زړې ښاروالی د تعمیر غرب خواته او د ابن سینا ترڅنګ د مارکېټ مزایده ترسره شوه، چې صدرالدین د صاحب الدین زوی د میاشتې په ۳۲ زره او ۶۵۰ افغانۍ ګټونکي وشمېرل شو.

یاده مزایده د مهترلام ښاروالی مالي او اداري امریت کې د دریو داوطلبانو ترمنځ ترسره شوه، چې صدرالدین پکې د لوړ نرخ ورکولو سره ګټونکي اعلان شو.

نوموړی شخص به له قرارداد کولو وروسته هره میاشت ۳۲ زره او ۶۵۰ افغانۍ عواید د مهترلام ښاروالی بانکي اکونټ ته ور اضافه کوي.

د یادونې وړ ده چې د تېرکال په پرتله سږکال د یاد مارکېټ په عوایدو کې هره میاشت څه باندې ٤ زره افغانۍ زیاتوالی راغلی.

## د غزني ښاروالی له خوا د ښاري شنو ساحو د ښکلا په موخه د ونو شاخبورۍ ترسره شوې



غزنی ۵۹


د غزني ښاروالی د تنظیف او زرغونتیا مدیریت د ښار په بېلابېلو ناحیو کې د ښاري ښکلا، شنو ساحو د پالنې او د چاپېریال د سالم ساتنې په موخه د ونو شاخبورۍ د ښار ښکلا ته څو برابره ښایست ورکړی.

د ښاروالی د یاد مدیریت تخنیکي ټیم د وروستیو ورځو راهیسې د ښار په مرکزي سیمو، تفریحي ساحو او مهمو واټونو کې د ګلدانونو ونې شاخبوري کړې، څو د ونو وده لا پیاوړې شي او ښاري منظر ته منظم، زرغون او ښکلې بڼه ورکړي.

د زرغونتیا مدیریت مسؤول ښاغلي محمداصف وویل؛ د ونو شاخ بوري نه یوازې د نباتاتو د روغتیا لپاره مهمه ده، بلکې له دې لارې مونږ کولی شو د ښاري زرغونتیا کچه لوړه کړو او ښاریانو ته یو سالم چاپېریال برابر کړو.

ښاروالی همدارګز له ښاریانو وغوښتل چې د شنو ساحو او عامه شتمنیو په ساتنه کې همکاري وکړي او له مدیریت سره د زرغون چاپېریال د پراختیا لپاره همغږي پاتې شي.

## د ښــار په گوډ گوډ کــې د تنظيف رغنــده فعالیتونه جريان لري



پکتیا ۶۰

د ښـــاري سيمو د پاکوالي په موخه، د گرديز ښاروالۍ د تنظيف مديريت، ورځني کاري ټيم له خوا د ښار داخل او يو شمېر نورو سيمو کې د کثافاتو ټولولو او د لښتيو پاکولو چارې په ښه ډول سره رواني دي.

دغه مديريت د خپل ځوان کاري ټيم پر مټ شـــپه او ورځ د ښار ډيرى ســـيمې له کثافاتو پاکوي او تر بل هر وخت يې د ښاريانو لپاره د ســـالم او پاک چاپيريال را منځتـــه کولو لپاره خاصه پاملرنه کړې.

گرديز ښاروالۍ له ښاريانو او ښار کې د مارکېټونو له مالکينو او هټيوالو غواړي، چې د خپلو کاري ځايونو توليدي کثافات د ښار په نا مناســـبو ځايونو په تېره لښـــتيو کې د کثافاتو غورځول د تنظيفي کارکوونکو پر وړاندې ســـتونزې نورې هم زياتوي، چې ښاريان بايد له دغه ناوړه کار څخه ډډه وکړي.

## د ښرنې ښار داخل کې د يو کيلو متر په اندازه د سړک جوړولو لومړنۍ چارې په منظم شکل رواني دي



پکتیکا ۶۱

د ښرنې ښاروالۍ رياست له لوري د ښار داخل د غزني په مسير د يو کيلو متر سړک لومړنۍ چارې په منظم شکل او د انجينري ټيم تر دوامداره نظارت لاندې رواني دي.

د ښرنې ښاروالۍ د طرحې او ډيزاين انجينر حبيب وايي، د ياد سړک کارونه په منظم ډول او د دوی تر دوامدارې کتنې لاندې روان دي، چې هڅه کوي په معياري او اســـاسي ډول جوړ او د ښاريانو د استفادې وړ وگرځي.

د نوموړي په خبره؛ دا چې دا يو عمومي سړک دی او د ښرنې ښار د تجارتي اسانتياوو لپاره جوړېږي په همدې خاطر يې د ښاروالۍ د مشرتابه په هدايت او د انجينري اصولو سره سم د ياد ســـړک د طبعي طبقې يا د وزن په مقابل کې د خاورې د ظرفيت معلومولو لپاره د ساختماني موادو د کتنې يو لابراتوار ته د خاورې نمونې ورکـــړې، چې د دغو نمونو له نتايجو سره سم به يې کارونه مخته وړي.

د يادونې وړ ده، چې ښرنه ښاروالۍ به نږدې وخت کې د ۱٤۰٤ مالي کال لپاره يو شمېر نورې پلان شوې پروژې هم پيل کړي.

## کندهار ښــار په ښلابلو ناحيو کې د گلانو او نيالگيو اوبو کولو چارې په منظم ډول ترسره شــوې



کندهار ۶۲

د کندهار ښاروالۍ د سرسبزۍ امريت له خوا د يو منظم پلان پر بنســـټ د ښار د زرغونتيا او ښکلا په موخه، د دريېمې ناحيې د ښکارپور دروازې پر عمومي گلدان تازه نوي نيالگي کېنول شول او د اوبو ورکولو چارې يې هم ترسره شوې.

د دې ترڅنگ په اوله، دريېمه، اتمه، لسمه او څوارلسمه ناحيه کې د زينتي گلانو او نيالگيو د اوبو کولو چارې پر خپل وخت او په منظم ډول ترسره شوې.

د کندهار ښـــاروالۍ د سرسبزۍ امريت هڅه کوي چې د ښار د شنو سيمو ساتنه، پراختيا او ښـــکلا ته دوام ورکړي او د ښاري چاپيريال د ښېرازۍ لپاره خپلې هڅې لا پياوړې کړي.

## د مهترلام ښــار د ښاري ســاحې د ۵۲ ونو د پلورلو مزايده ترسره شوه




لغمان ۶۳

مهترلام ښـــاروالۍ د ټاکل شـــوې کميټې پـــه حضور کې د مهترلام ښـــار د لومړۍ ناحيې اړوند ښـــاري ســـاحه کې د ښاروالۍ د ۵۲ ونو د پلورلو مزايده ترسره شوه چې زمرى د الله محمـــد زوی د ۱۲۰ زره افغانـــۍ نرخ ورکولـــو سره گټونکی وشمېرل شو.

يـــاده مزايده د تدارکاتو د قانون مطابق د مهترلام ښـــاروالۍ مالي او اداري امريت کې د ۸ داوطلبانو ترمنځ ترسره شـــوه، چې زمرى پکې د ډير نرخ ورکولو له امله گټونکی اعلان شو.

نوموړي به د ونـــو له پرې کولو وړاندې د مهترلام ښـــاروالۍ بانکـــي اکونټ ته ۱۲۰ زره افغانۍ عوايد ور اضافه کوي او بيا به ورته د ونو پرې کولو اجازه کېږي.

د يادونـــې وړ ده چې له يادې مزايدې وړاندې ټولو داوطلبانو تـــه د ونو پرې کولو په اړه چې کومه شرطپاڼه جوړه شـــوې وه تشريح کړل شوه، ترڅو د يادې شرطپاڼې مطابق خپلې چارې ترسره کړي.

## کار ســاخت (کانکریت ریزی) چهــار سرک به طول ۱,۵ کیلومتر در شهر مزارشریف به سرعت جريان دارد




مزار شریف ۶۴

کار ســـاخت (کانکریت ریزی) سرک های عقب باغ زنانه، مقابل ریاســـت کار و امـــور اجتماعی و سرک شـــمال و جنوب پارک تفریحی آریانا به طول ۱,۵ کیلومتر و عرض ۷ و ۸ متر به هزینه ۱۴,۵ میلیون افغانی در ناحیه دهم شـــهر مزارشریف به سرعت جريان دارد.

کار بســـتر ســـازی سرک های مذکور ۹۵٪ فیصد به پیش رفته اســـت، ســـاخت آبروهای کناری آن تکمیل گردیده و کانکریت ریزی چهار سرک به زودی آغاز خواهد گردید.

معیاد تکمیـــل کار پروژه مذکور چهار ماه کاری می‌باشـــد که بودیجه آن توسط شـــاروالی مزارشریف تمویل و از سوی شرکت سرک سازی و ساختمانی خصوصی تطبیق می گردد و با ساخت سرک های مذکور تســـهیلات بیشتر برای عبور و مرور ترافیک و شهروندان این ساحه فراهم خواهد شد.

## مهترلام ښــاروال په دويمه ناحيه کې د حاجيانو سړک له چارو څخه ليدنه وکړه او د کار په ښه کيفيت يې ټينگار وکړ



لغمان ۶۵

د مهترلام ښاروالۍ له لوري د دويمې ناحيې اړوند د حاجيانو د کلي د ســـړک د جوړېدو چارې په منظم شکل د پلان له مخې رواني دي چې مهترلام ښاروال الحاج مولوي رحمت الله شهامت چې تخنيکي او مسلکي امر انجنير زاهد الله مجددي يې ملتيا کوله د يادې پروژې له کارونو څخه ليدنه وکړه.

ښـــاروال د پروژې مسؤولينو باندې د ښه معياري او اساسي کار کولو ټينگار وکړ او غوښـــتنه يې ترې وکړه چـــې کارونه د پلان مطابق پر وخت ترسره کړي.

ياده پروژه چې د مهترلام ښـــاروالۍ له داخـــلي بودجې د ۱۰ ميليونه افغانيو په ارزښت پيل شوې د ۳۶۰ متره په اوږدوالي او ۱۵ متره په پلنوالي ســـړک کانکرېټ اچول، دواړه خواوو ته يې ويالې، پلې لارې او يو طرف ته يې استنادي ديوال جوړول شامل دي چې اوس مهال يې کارونه په منظم شکل جريان لري.

د يادونې وړ ده چې په دغه پروژه کې په ورځني ډول شاوخوا ۳۰ کسانو ته د کار کولو زمينه هم برابره شوې ده.

## د ښـــاروالیو چارو د سمون عمومي رئیس کنړ ولایت ته سفر وکړ




کنړ ۶۶

د چارو اداري لوی ریاســـت د ښاروالیو چارو د سمون عمومي رئیس مولوي محمد اسحق اخندزاده د یو تخنیکي پلاوي په مشرۍ د هیواد ختیځ ته د سفر په ترځ کې د کنړ ولایت له والي مولوي قدرت الله ابوحمزه، د اســـعداباد ښاروال مولوي نظر محمد عتیق، د دغه ولایت د علماوو شورا رئیس مولوي عبدالقهار صدیقي، ولسوالانو او ولایتي ادارو مسؤولینو سره ولیدل.

دغه لیدنه نن چهارشنبه(ذي القعدې دویمه/غوایي ۱۰مه) د کنړ ولایت مقام د غونډو په تالار کې د قران عظیم الشـــان په مبارکو ایتونو پیل شوه، ورپسې د اسعداباد ښاروال د ښاغلي مولوي محمد اســـحق اخندزاده په مشـــرۍ راغلي تخنیکي پلاوي ته ښه راغلاســـت ووایه او هیله یې څرګنده کړه چې د دوی راتګ به د کنړ ولسونو په خیر وي.

ورپسې د ښاروالیو چارو د سمون عمومي رئیس مولوي محمد اسحق اخندزاده دغه ولایت ته د خپل سفر موخه د ښاروالۍ فعالیتونـــه ارزول، له ولایتي ادارو سره د همغږۍ او همکارۍ پراختیا او د ښاروالۍ حقوقي حیثیت تشریح کول یاد کړل.

مولـــوي محمد اســـحق اخنـــدزاده وویل؛ ښـــاروالۍ یو غیر بودجوي واحـــد ده چې په ملي بودجه کې نه عادي او نه هم انکشافي ســـهم لري او عواید یې هم د کابینې د پرېکړې پر اساس ملي بودجې یا بل کوم ولایت ته نه انتقالیږي، بلکې په هماغه ولایت کې د پلان مطابق خلکو ته پرې ښاري خدمتونه وړاندې کیږي.

په دې لیدنه کې د کنړ والي دغه ولایت ته د ښاغلي اخندزاده په مشرۍ ورغلي پلاوي ته هرکلی ووایه او ښاروالۍ یې د نظام یو له مهمو ادارو څخه یاده کـــړه چې عواید یې د ولس لخوا راجمع کیږي او خدمتونه یې د ولس د اعتماد سبب ګرځي.

همدارز یې ښاغلي اخندزاده ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه چې اســـعداباد ښـــار ډېر کوچنی ښار ده او ښـــاري ګڼه ګوڼه یـــې زیاته ده، چې باید حلقوي ســـړک او هوایي پلونه پکې جوړ شي او همدارز یې د ولسوالیو ښاروالیو لپاره د تشکیل او انکشافي پروژو د تطبیق غوښتنه هم وکړه.

د یادونې وړ ده چې د ښـــاروالیو چارو د سمون عمومي رئیس په مشرۍ تخنیکي پلاوي د اســـعداباد ښـــاروالۍ تدارکاتي قراردادونو، عوایدو، محاســـبې، ترانســـپورټ، ســـکتوري، د تنظیـــف او کارکوونکو چارو اســـناد وڅېړل شـــول، د یادې ښـــاروالۍ مســـؤولین او کارکوونکي یې خپلو نیمګړتیاوو ته متوجه کړل.

دا غونډه د خیر په دعا پای ته ورسېده.

## جلال اباد ښـــاروالۍ له لـــوري د هوايي ډګـــر مخې ته د کانکریټي موانعو د لرې کولو چارې پیل شوې

د جلال اباد ښـــاروالۍ له لـــوري د ننګرهار هوايي ډګر مخې ته د نهمې ناحیې اړوند په عمومي سړک له کلونو راهیسې موانع اېښودل شوي وې چې د ترافیکو او عامو خلکو پر وړاندې یې ګڼې ستونزې ولاړې کړې وې د لرې کولو چارې پیل شوې.

د جلال اباد ښـــاروال قاري بســـم الله بلال، مرستیال ښـــاروال مولوي محمد اسحاق ســـعید، د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس انجنیر وحیدالله مخلص او ورسره مل پلاوي د یادي ساحې نه له نږدې لیدنه وکړه.

ښاروال قاري بلال د یادې ساحې د موانعو د لرې کولو پرمهال وویل تولې هغه لویې او وړې لارې چې د ترافیکو او عامـــو خلکو د تګ راتګ پرمهال ســـتونزې جوړوي د جلال اباد ښاروالۍ به له اړوندو ادارو سره په همغږۍ د ښاري نظم او ښاري پراختیا په موخه ساحه پاکوي.

مرســـتیال ښاروال او نورو مســـؤولینو یاده ساحه کې د ســـړک پراخوالي مهم اقدام یاد کړ او ولسونو ته یې ډاډ ورکړ چې د هوساینې په موخه به یې هیڅ ډول اقدامات نه سپموي.

د تنظیف او سرســـبزۍ امر حضرت علي اغا په وینا دغه موانع د شـــلو کلونو راهیسې په یاده ساحه کې اېښودل شوي وې چې ښاریانو ته یې د تګ راتګ پر مهال ګڼې ســـتونزې را ولاړې کړې وې، د اوس لپاره د یو نیم کیلو متر په اوږدوالي او د پنځه مترو په پلنوالي به یاد ســـړک پراخه شي.

په یاد سړک د تګ راتګ ټول موټر چلوونکي خوښ دي او د جلال اباد ښاروالۍ د یاد اقدام څخه مننه کوي.

د جلال اباد ښـــاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د ښار او ناحیـــو ټولې هغه لارې او ســـړکونه پراخیزې چې د عامو خلکو او یا هم بېلابېلو ادارو له لوري بندې شوې.

جلال اباد ۶۷

## بازار یکه‌ولنگ توســـط تیم مشترک شاروالی بامیان و یکه ولنگ ارزیابی گردید

تیم مشترک نظارت و ارزیابی شـــاروالی یکه‌ولنگ با حضور نماینـــدگان ریاســـت شـــاروالی بامیان طی بازدیدی از بازار این ولســـوالی، روند عرضه خدمات، کنترُل کیفیت و قیمـــت اجناس، اخذ جواز فعالیت و پرداخت محصولات صفایی را بررسی نمودند.

در جریان این بازدید، رهنمودهـــا و توصیه‌های لازم جهت بهبود کیفیت خدمات شـــهری و رعایت قوانین شاروالی به کسبه‌کاران ارائه گردید.

شـــاروالی یکه‌ولنـــگ متعهد اســـت در همـــکاری با نهادهای مربوط، برای تأمین نظم شهری، حمایت از حقوق شهروندان و ارتقای خدمات شهری تلاش همه جانبه نماید.

بامیان ۶۸

## جلســـه گزارش دهی فعالیت‌های شـــاروالی چاریکار تدویر گردید




پروان ۶۹

جلســـه گزارش دهی فعالیت‌های انجام شده ربع سوم و چهارم ســـال مالی ۱۴۰۳ شـــاروالی شـــهر چاریکار ولایت پروان در هماهنگی مدیریت عمومی حکومتداری شهری با حضورداشت شاروال شهر چاریکار، علمای کرام، وکلای گذر، رؤسای اصناف شهری و بزرگان اقشـــار مختلف شهر چاریکار در تالار جلسات شاروالی چاریکار دایر گردید.

حافظ راز محمد یاسر، شـــاروال چاریکار گفت: این مسؤولیت ماست که از کارکردهای خویش به مردم خود معلومات دهیم و در مقابل کارکردهای خود به آن‌ها پاســـخ‌گو باشیم. وی افزود هدف اساســـی باورمند ساختن مردم به خدمات نظام و تشویق مردم به مشارکت فعال به همکاری با شاروالی چاریکار می‌باشد.

مولوی سبحان‌الدین همت، مدیر عمومی حکومتداری شهری در مورد کارکردها و دســـتاوردهای، انجنیر عبدالحفیظ قانع مدیر انجنیری کارکردها و دســـتاوردهای مدیریت عمومی خدمات تخنیکی و مســـلکی، قاضی رحمان‌داد معتصم مدیر عمومی نظـــارت و ارزیابی کارکردها و دســـتاورد های مدیریت عمومی نظارت و ارزیابی و عبدالفهیم محمدی مدیر اجاره دهی شاروالی چاریکار کارکردها و دستاوردهای مدیریت عمومی مالی و اداری شاروالی چاریکار را ارائه فرمودند.

در اخیر مجلس پیشنهادات و نظریات اشتراک کنندگان از طرف مسئوولان اداره شاروالی چاریکار شنیده شد و به آنها پاسخ ارائه گردید که دستاوردها و کارکردهای اداره شاروالی چاریکار مورد رضایت وکلای گذر و علمای کرام قرار گرفت.

## شاروالی نیلی ولایت دایکندی لایحه تنظیم امور بازار که از سوی مجلس اداری شاروالی شهر نیلی تصویب گردیـــده اســـت بگونه جـــدی تطبیـــق و از آن بگونه دوامدار نظارت می نماید.




دایکندي ۷۰

## گردیز ښار د ملک خېلو سیمې دریو کلیو سړکونو د جوړولو کار جریان لري




گردیز ښار پنځمې ناحیې اړوند، ملک خېلو سیمه کې د گردیز ښاروالۍ تر بشپړې څارنې لاندې د ملگرو ملتونو دفتر یونپس په مالي ملاتړ د دریو کلیو سړکونو په کانکریټي ډول جوړولو کار جریان لري.

دغه پروژه چې کارونه یې تخنیکي معیارونو سره سم روان دي، په ټولیزه توگه ۷۵۰ متره اوږدوالی او بېلابېل پلنوالی لري، چې د کار جریان یې ولایتي ادارو تخنیکي بورډ، ښاروالۍ انجینرانو او سیمې گذر وکیلانو لخوا وخت پر وخت څارل کېږي.

گردیز ښاروالۍ ښار کې د روانو پروژو د کیفیت په تامین ډیر تمرکز کوي ترڅو دا سړک اوږد مهاله او د خلکو لپاره گټور تمام شي.

د یادولو وړ ده، چې اوس مهال د گردیز ښاروالۍ تر چتر لاندې د ملگرو ملتونو دفتر یونپس لخوا، بېلابېلې پروژې د ښار په مختلفو سیمو کې د پلي کېدو په حال کې دي، چې لسگونه مسلکي او غیر مسلکي کاریگرو ته پکې د کار زمینه برابره شوې ده.

## پیاده‌روها توسط تیم مؤظف شاروالی شهر سرپل پاکسازی گردید




به‌منظور تأمین سهولت در رفت‌وآمد شهروندان و حفظ نظم شهری، امروز تیم مدیریت عمومی حکومت‌داری شهری اقدام به پاکسازی پیاده‌روهای داخل شهر از اموال اضافی دکانداران نمود.

اعضای تیم مؤظف با حضور در ساحات مزدحم شهر به‌ویژه بازار مرکزی اقدام به انتقال و جمع‌آوری وسایلی نمود که توسط دکانداران در پیاده‌روها قرار داده شده بود. این اقدام با هدف بازگشایی مسیر عابرین پیاده و تأمین سهولت در تردد روزمره شهروندان انجام شد.

در کنار پاکسازی، به دکانداران نیز توصیه گردید تا از اشغال دوباره پیاده‌روها خودداری نموده و در حفظ نظم عمومی با مسئوولین همکاری نمایند.

مسئوولین مربوطه تأکید کردند که این روند به طور دوام‌دار ادامه یافته و در صورت تخلف، اقدامات قانونی در برابر متخلفین روی‌دست گرفته خواهد شد.

## ترینکوټ ښاروالۍ مقام کې د اداري نوبتي غونډو په دوام ناسته ترسره شو

د ترینکوټ ښاروالۍ ریاست مقام کې د اداري مجلس نوبتي ناسته د یاد ریاست د مالي او اداري چارو عمومي مدیر رحمن الله رحماني په مشرۍ ترسره شوه.

لومړی ښاغلي رحماني د روان ۱۴۰۴ ه ش کال په ښار کې پر نویو پلانونو د تطبیق کولو هر اړخیز بحث وکړ او د اداري کارکوونکو څخه یې د ښاروالیو د اصولو او قوانینو مطابق د تطبیق او اجرااتو غوښتنه وکړه.

همداراز غونډه کې د اجنډا مطابق د ۱۴۰۴ مالي کال د پیل سره په عوایدو راټولولو کې جدي اقدامات ترسره کول، رهایشي نمرو، تجارتي ساحو او کورونو د ثبت په اړه د معلوماتو غوښتنه، د ۱۴۰۴ مالي کال د پیل سره د ښاروالۍ اړوندو مدیریتونو د کارکوونکو د کاري پلانونو ترتیبول او یو شمېر نورو موضوعاتو بحث او خبرې وشوې.

بل لور ترینکوټ ښاروالۍ اداري کارکوونکو ژمنه وکړه چې اداري اصولو او ورسپارل شویو مسولیتونو ته ژمن دي. او د ښاریانو ستونزو ته پر وخت رسیدنه او ښاري پرمختگ لپاره به خپلې نه ستړې کېدونکې لارې چارې وساتو او د ښاري پلانونو په تطبیق کې به یو له بل سره پوره همغږي اوسو.



## د مرکزي بغلان ښاروال له ۱۰۰ بستریز ملکي روغتون څخه لیدنه وکړه




مرکزي بغلان ښاروال، قاري لطف الله عبیده، د مرکزي بغلان د ۱۰۰ بستریز ملکي روغتون څخه لیدنه وکړه.

ښاغلي ښاروال د روغتون د بېلابېلو څانگو څخه کتنه وکړه او د روغتیایي خدمتونو کیفیت یې له نږدې وڅېړه.

په دې لیدنه کې، ښاغلي عبیده له مسؤولینو، ډاکترانو او ناروغانو سره خبرې وکړې او د هغوی ستونزې یې واورېدې، نوموړي د روغتون پر مسؤولینو باندې ټینگار وکړ چې باید د خلکو د درملنې په برخه کې لا زیات شفافیت، چټکتیا او انساني چلند ته پام وشي.

ښاروال له روغتیایي کارکوونکو څخه مننه وکړه، چې د محدودو امکاناتو سره سره یې د خلکو خدمت ته ځان وقف کړی دی، همداراز، نوموړي ژمنه وکړه چې د ښاروالۍ له لارې به د روغتون د امکاناتو د زیاتوالي او ستونزو د حل لپاره اړوند ادارو سره همغږي وکړي.

دغه لیدنه د خلکو له لوري مثبت ارزول شوې او خلک هیله لري چې دا ډول گټورې لیدنې به دوام ومومي.

## جلال اباد ښاروالۍ له لوري د ښاري فرهنگ دودولو په موخه په عبدالرحمن پژواک ښوونځي کې د ښاروالۍ کمېټې جوړې شوې




د جلال اباد ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ ریاست له لوري د ښاري فرهنگ د دودولو او پیغام رسونې په هدف د اوومې ناحیې اړوند په عبدالرحمن پژواک ښوونځي کې د ښاروالۍ کمېټې جوړې او عملاً یې په خپل ښوونځي کې د پاکۍ چارې د تنظیفاتي لباس په تن کولو سره پیل کړې.

د ښاري حکومتولۍ رئیس مولوي سیف الرحمن شینواري له لوري د یاد ښوونځي زده کوونکو ته د ښاري فرهنگ په ارزښت لازم معلومات وړاندې شول او پاکوالی یې د ایمان یوه برخه وبلله.

د عبدالرحمن پژواک ښوونځي اداري د یادو کمېټو پر جوړېدو خوښي وښوده او د جلال اباد ښاروالۍ یاد اقدام یې وستایه او ژمنه یې وکړه چې یاد پیغامونه به لومړی خپلو کورنیو او بیا د سیمې اوسېدونکو ته ورسوي.

د یادې کمېټو د جوړېدو پر مهال د ښاري حکومتولۍ د رئیس ترځنگ د فرهنگي چارو مدیر جهانیار هدایت، د اوومې ناحیې مسؤولینو او گذر وکیلانو گډون کړی وو.

د یادو کمېټو د جوړېدو موخه د ښاري فرهنگ دودولو او عامه پوهاوی دی چې په ترتیب سره به د ښار دولتي او خصوصي مکاتبو او مدارسو ته ورسېږي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې ښاریانو ته د ښاري فرهنگ په اړه له بېلابېلو لارو څخه معلومات او پیغامونه ورسوي.

## کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی شکردره ولایت کابل به منظور پاکی و صفایی و حفاظت از محیط زیست این ولسوالی، زباله‌های مضره بازار شاه مردان را جمع‌آوری نمودند و به مکان مناسب آن انتقال دادند.

